دولت جمهوری اسلامی افغانستان

کمیسیون مســــــــــتقل انتخابات

دافغانستان اسلامـــي جمهوری دولت

د ټـــاکنـــوخپلـــــواک کمیسیـــون

Islamic Republic of Afghanistan

Independent Election Commission

# د ټاکنو په بېلابېلو پروسو کې د ځانګړو مېلمنو د حضور اړوند لایحه

## مبنی:

دا لایحه د ټاکنو قانون د (۷۹) مې مادې پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون (له دې وروسته کمیسیون) له لوري تصویب شوه.

## موخه:

دا لایحه د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو ټاکنو په بېلابېلو پروسو کې د ځانګړو مېلمنو د حضور د څرنګوالي اړوند چارې تنظیموي.

## ځانګړي مېلمانه

### لومړۍ ماده:

ځانګړي ملېمانه پر هغو دولتي مقاماتو، بهرنیو ډیپلوماتانو، د ملګرو ملتونو سازمان د مختلفو موسساتو کارکوونکو او ټولو دولتي او غیر دولتي بنسټونو باندې اطلاق کېږي چې په ټاکنو کې خپله ځاني ګټه ونه لري او یوازې د ټاکنو پروسه وګوري.

نوماندان، سیاسي ګوندونه، څارونکي او کتونکي بنسټونه نه شي کولی د ځانګړو مېلمنو په توګه د ټاکنو په بېلابېلو پروسو کې حضور ولري.

ملګری پلاوی په هغو کسانو اطلاق کېږي چې ځانګړي مېلمه سره په ټاکنیزو مرکزونو کې ملګرتیا وکړي او د کمیسیون له لوري یې د پېژندنې کارت ترلاسه کړی وي.

## شرایط

### دویمه ماده:

۱: د کمیسیون دارالانشا د ټاکنو په بېلابېلو پروسو کې د ځانګړو مېلمنو د حضور اړوندې چارې په اړوند طرزالعمل کې په دې لایحه کې وړاندیز شویو شرایطو ته په پام، تنظیموي.

۲: په دې موخه غوښتنلیکونه په پام کې له نیول شوي پلان څخه لږ تر لږه یوه اونۍ دمخه په لیکلي ډول د کمیسیون دارالانشا ته سپارل کېږي. غوښتنلیک لږ ترلږه دغه معلومات لري:

الف: د ځانګړي مېلمه نوم او موقف،
ب: د حضور د نېټې او وخت په هکله معلومات،
ج: د ټاکنیز محل یا مرکز په هکله معلومات چې ځانګړي مېلمه په کې د حضور لرلو لېوالتیا لري،
د: د ملګري پلاوي شمېر او نومونه (هغه کسان چې له ځانګړي مېلمه سره ملګرتیا کوي).
ه: د امنیتي ساتونکو شمېر. (د ځانګړي مېلمه او ملګري پلاوي امنیت ته ګومارل شوي کسان)

۳: د کمیسیون دارالانشا د معلوماتو له بشپړولو څخه د ډاډ له ترلاسه کولو وروسته، موضوع د تصویب لپاره کمیسیون ته راجع کوي. کمیسیون برابرشوی غوښتنلیک تایدوي یا ردوي یا د نېټې، وخت، محل او یا د ملګري پلاوي د شمېر او امنیتي ساتونکو په هکله د تغیر تصمیم نیسي.

۴: د کمیسیون دارالانشا د کمیسیون د پرېکړې پایله ژر غوښتنلیک ورکوونکي ته رسوي.

۵: د کمیسیون د تاید په صورت کې، د کمیسیون دارالانشا د غوښتنلیک ورکوونکي له لوري برابرشویو معلوماتو ته په پام د پېژندنې کارت برابروي او غوښتنلیک ورکوونکي ته یې ورکوي.

۶: د کمیسیون دارالانشا د نوم ثبتولو، رای ورکولو او د رایو شمېرلو مرکزونو او د ټاکنو په ټولو پروسو کې له کمیسیون څخه لږ ترلږه د یو استازي ګډون د ځانګړي مېلمه د حضور پرمهال تنظیموي.

<u>**حقونه او مسوولیتونه:**</u>

**دریمه ماده:**

۱: ځانګړي مېلمانه کولی شي د پېژندنې کارتونو له اخیستلو وروسته د اړوندو طرزالعملونو سره سم د ټاکنو په بېلابېلو پروسو کې حضور ومومي.
۲: ځانګړی مېلمه، ملګری پلاوی او د هغوی امنیتي ساتونکي د نوم ثبتولو، رای ورکولو، رای شمېرلو مرکزونو او ټولو پروسو کې د حضور پرمهال باید د کمیسیون له لوري د پېژندنې ورکړل شوي کارتونه په ښکاره ځای ولګوي او له ځانه سره یې ولري.
۳: ځانګړی مېلمه کولی شي له ټاکنیزو کارکوونکو څخه د پروسې په هکله معلومات او توضیحات وغواړي.
۴: د ښځو ځانګړو مرکزونو او محلونو ته یوازې ځانګړې ښځینه مېرمن او ملګرې ښځینه پلاوی ورتللی شي. د نارینه و محل ته د ښځینه مېلمنې ورتګ کوم محدودیت نه لري.
۵: ځانګړی مېلمه په هیڅ صورت په ټاکنیزه پروسه کې دخالت نه کوي او نه دا پروسه اخلالوي.

۶: ځانګړی مېلمه باید د رأیې سري والي اصل او رأی اچونې کارت کې لیکلې معلومات محترم وګڼي.
۷: ځانګړی مېلمه په هیڅ ډول نه شي کولی د نوم ثبتولو، رای ورکولو یا شمېرلو په مرکز کې د حضور په وخت کې د کوم ځانګړي ګوند یا نوماند پلوي وکړي.
۸: ځانګړی مېلمه د ملګري پلاوي او امنیتي کسانو د چلند او کړنو د څرنګوالي مسوولیت لري.
۹: ملګری پلاوی او د ځانګړي مېلمه امنیتي ساتونکي یوازې له ځانګړي مېلمه سره د ملګرتیا په وخت کې کولی شي د نوم ثبتولو، رای ورکولو او رایو شمېرلو مرکزونو ته داخل شي.
۱۰: د ځانګړي مېلمه امنیتي ساتونکي مکلف دي چې ټاکنیزو مرکزونو ته د وسلو وړلو په هکله لګول شوي محدودیتونه رعایت کړي.

**<u>انفاذ:</u>**

**څلورمه ماده:**

دا لایحه له تصویب وروسته نافذه او خپرېږي.